(۲)

# د خلکو پالنه

زموږ دوهمه مرکه د تاریخ پر یوې خورا دلچسپي پاڼي باندي ده، چي پخوانو مشرانو څنګه د خلکو اکثریت او د مملکت کروندګي ډله پالله؟ او دوی ته دا ښکاره سوې وه، چي د مملکت اصلي خدمتګاره طبقه همدغه بزګران او دهقانان دي.

په پخوانۍ افغاني ټولنه کښي دې ډلي خورا اهمیت درلود، او کله چي آریایي خلك د پوند ګلوۍ له ژونده څخه په کلو او اورشوګانو کښي استوګن سول، نو دوی زراعت ته توجه وکړه او هم له دې جهته د دوي په قدیمو دیني کتابو کښي د مځکي د کرلو او آبادولو او د غویو د پاللو او ستایلو له پاره ډېر امرونه او تشویقونه موجود دي.

پادشاهانو او د سیاست او اداري خاوندانو او رهنمایانو چي اجتماعي او اداري کارونه ئې په لاس کښي وه او اقتصادي منابع هم دوی پالله تل به ئې د کلو د بزګرو په آرامۍ او خوشحالۍ کښي کوښښ کاوه، او د دوی تکلیفونه به ئې ایسته کول، او د ژوند بارونه به

ئـې ور سـپکول. چـې زه دلتـه ځینـې تـاریخي واقعیتونـه پـه دې خبره رانقلوم :

د طاهریانو کهول زموږ په تاریخ کښې لومړني شاهان دي، چې پـه اسلامي دوره کښې لومړی پلا په خراسان کښې مستقل سـلطنت جـوړ کړئ، او ددې خاندان لومړی پاچشاه طاهر په ۲۰۵ هـ کـال د اسـتقلال بیرغ د هرات په پوشنګ کښې دروليځ ؤ، چې اوس ئې غوریان بولو.

پخپلـه طـاهر یـو هوښیـار او دلاوراو ضـابط پادشـاه ؤ، چـې ټـول خراسان ئې فتح کئ، او خلک ئې د عدالت او امنیت په سیوري کښـې آرام کړل. او تر ده وروسته ئې زوي عبدالله پر ځای کښېنسوت، چې له ۲۱۳ څخه ئې تر ۲۳۰ ه کالـه پـوري اولـس کالـه شـاهي درلـوده، دی مقتدر او عالم او رعیـت پـالونکي لـوی پادشـاه ؤ، او مطهـر بـن طـاهر مقدسي پخپل کتاب البدؤ و التاریخ کښـي داسـي کـاږي : " کلـه چـې عبدالله د خراسان پاچا سو نو ددې مملکت پـه سـرحد کښـې پـر یـوه غونډۍ وخوت او خلک ئې راوبلل او داسي ئې ورته وویل :

" اې خراسانیانو ! تر هغه وخته چې تاسي ونه ساتم، نو مالیـه نـه در څخه غواړم."

په دې وجیزه کښـي د حکومـت مسـئولیت او د خلکـو د وظـیفې فلسـفه ښـوولې سـوېده ، چـې هـره اداري ډلـه هغـه وخـت د مـالیې اخیستلو حق لري ، چې د خلکو ځان او مـال او حقـوق وسـاتي، او دا لنډه خبره د یوه پادشاه لـه خـولې د خراسـاني سیاسـي روایـاتو قـدیم اصالت راښیي.

دغسي هم د وطن بل مؤرخ عبـدالحی ګردېـزی پـه زیـن الاخبـار کښي لیکلي دي چي : " په اسلامي فقه کښي د کاریزو د زراعت احکـام نه وه او ځکه چي د خراسـان زراعـت اکثـر کـاریزي ؤ، نـو عبـدالله د

خلکو د مشکلاتو د ایسته کولو لپاره د خراسان ډېر فقیهان او عالمان سره راټول کړه چې دوي د کارېزو پر احکامو باندي یو کتاب وکښي." او دا په اسلامي دروه کښي لومړی د خراسان زرعي قانون وُ، چې د عبدالله په حکم دلته د بزگرانو او خلکو د هوساینې لپاره ترتيب سو.

عبدالله د خراسان لوی او دانشمند پادشاه د بزگرانو د پالني او روزني لپاره ښه کارونه کړي دي، او دغه گردېزی مؤرخ لیکي چې ده خپلو ټولو کاردارانو ته په ټول خراسان کښي داسي یو فرمان صادر کړئ وُ چي پښتو ترجمه ئې داده :

" زه تاسي ته اخطار درکوم ، له خوبه ويښ سئ ! او خپله خيرگـی پرېږدئ، د ځان ښېگڼه وغواړئ ! او د مملکت د بزگرانو سره ښه کوئ ! هغه بزگر چي ضعيف سي، تاسي ئې قوت سئ، او بیرته ئې پر پښو ودروئ ! دوي هغه خلك دي، چي تاسي ته ډوډی درکوي، او تاسي ته هر کله سلامونه هم کوي، نو واورئ چي پر داسي خلکو باندي ظلم کول حرام کار دئ."

دا وه د عبدالله بن طاهر د سياست او اداري دوه مثالونه چي ما دلته له دوو رښتينو مؤرخانو له قوله رانقل کړل.

کله چي موږ د قديمو مؤرخانو او جغرافیاوالو کتابونه گورو، نو دوي وايي چي خراسان د دنيا خورا آباد او زرغون او معمور ځای وُ. او ددې ودانۍ او پراخۍ او سمسورتيا علت هم دا وُ چي حکمرانانو او مشرانو ئې دغسي پاخه او درانه فکرونه درلودل، او د خپل مشرتابه اساس ئې هم پر عدالت او انصاف او رعيت پالنه باندي ایښئ وُ.

دا خو د دوي قول او خبري وې، مگر دا هم ښکاره ده، چي په جهانداری کښي یوازي خبري او نصیحتونه او سپارښتونه کار نه کوي، بلکي د مشرتابه له اهمو شروطو څخه دا هم ده، چي يو مشر باید خپله

خبره عملي هم کي، او یوازي پر وینا باندي ویسا ونه لري. تاریخ د بشر د اعمالو یوه رڼه هنداره ده، او دا رابښیي چي د پخوانو اقوامو او ټولنو په لوړتیا یا ځوړتیا کښي کوم کوم عوامل دخیل وه؟ او د دوی د ژوندانه لاري چاري څنګه وې؟ حاکم او محکوم څنګه ژوند سره کاوه؟ او که کوم فکري یا مدني او اجتماعي حرکتونه پېښ سوي وي، د هغو تحلیل د تاریخ د حتمیت او فلسفې پر اساس څنګه کېدای سي؟

داسي ښکاري چي په اسلامي دوره کښي هم د خراسانیانو د اجتماع اساسي ډله کروندګي او بزګران وه، چي دوی په کلو او دهکدو کښي اوسېدل، او د خلکو د ژوندانه بیخي لوی مدرک او منبع هم کرنه او زراعت و، چي د دولت د مالیاتو او اقتصادي عایداتو سرچینه هم هغه څه وه چي دهقانانو به دولت ته د مالیې او خراج په توګه ورکول، یا به د زراعتي محصولاتو څخه د خوړلو یا خرڅولو یا صنعت او حرفت لپاره مواد تهیه کېدل. نو ځکه بزګران او دهقانان د خراساني ټولني د شمزۍ په څېر وه، او اکثر اجتماعي او فکري او انقلابي حرکتونه هم په دوی کښي پیدا کېدل. او که به چا د آزادۍ له پاره غورځنګ کاوه، نو به ئې ضرور له دې ډلي څخه کومک اخیست، ځکه چي په طبقاتي لحاظ هم دغه ډله یوه متشکله او منظمه ټولۍ بلله کېده. نو حکم داران او پوه امیران هم ناچاره وه چي په خپلو اعمالو او اداري او انضباطي کارونو کښي ددې طبقې فکر له ځانه سره ولري، او ددوی د آرامۍ او هوسایۍ لپاره خاصه توجه وکي.

که موږ د اوسني عصر د دولتو بودجې او مصارف وګورو، یا د دوی پلانونه او پروژې مطالعه کو، نو به ضرور د زراعتي کارونو او زارعینو د پالني او ساتني لپاره، غټې غټې مبلغونه ووینو، او ښایي چي دا د نوي عصر د علم او پوهني برکت وګنو، مګر په خراسان کښي دا

کار زر کاله پخوا هم دغسي د دولت له خوا کېدئ، او دا کار یو نوی تجویز نه دئ.

پخوانو حکمرانانو او جهاندارانو لکه پخپلو خبرو او فرمانو کښې چي زارعه طبقه په ښه سترگه لیدله، او د دوي حمایت به ئې کاوه، دغسي هم په حکومتي مصارفو کښي د کرني او زراعت لپاره یوه غټه برخه ټاکله کېده، او ډېري دولتي پیسې بـه د زارع د کـار د ښېگنـي او سموني لپاره مصرف کېدې.

دلته زه د تاریخي اسنادو په رڼا کښي یو مثال راوړم چي د تاریخ سیستان نامعلوم مؤلف پخپل کتاب کښي را نقل کړئ دئ، او دا د افغانستان د یو قدیم ولایت یعني سیستان کالنۍ بودجه ښیي.

دا مؤلف ددغه ولایت د یوه کال ټول مالي عایدات پنځه ملیونه او درې سوه اوه نوي زره درهمه گڼي چي ټول نـږدې ۱۵ ملیونه افغانۍ کیږي. او له دې مبلغه څخه دوولس ملیونه مصارف او درې ملیونه پس انداز وُ.

همدغه مؤلف د سیستان د بودجې ټول مصارف قلم په قلم ښیي، او وایي چي د زراعتي چارو یعني آبیارۍ او بند تړلو او ولو کینلو او پلونو جوړولو لپاره دوه ملیونه یو سل او نه دېرش درهمه یعني په اوسنۍ حساب شپږ ملیونه افغانۍ مصرف کېدئ، چي د گرده بودجې نیمه برخه کیږي.

وگورئ چي د بزگرانو د زراعت لپاره پخوانو خلکو څونې ډېره توجه کوله؟ په دې بودجه کښي د اداري چارو او قضا او پولیسو او دیني امورو او جنگي چارو او دفاعي او امني کارو او حتی د حکمدارانو د معاش لپاره هم مبالغ ټاکل سوي دي. مگر د زارع او دهقان د کارو لپاره د ولایت نیمه بودجه تخصیص سوې وه، او

همدغه سبب ؤ چي په هغه وخت کښي سیستان د ایشیا یوه ودانه او سرسبزه او سمسوره سیمه وه. او دا ښایي هغه وخت ؤ، چي یعقوب صفاري د سیستان د کلي والو او عیارانو په همت، دلته آزاد ملي حکومت جوړ کړئ ؤ.

په تاریخ کښي داسي ډېر نور مثالونه هم لیدل کیږي چي د خلکو د اړتیا او لوږي او ناداری، پر وخت به له دوی سره حکمدارانو او بډایانو کومکونه کول، او حکومتونو به دا خپله وظیفه ګڼله چي اړ خلك له محتاجی، ځخه وژغوري، او د دوی دردونه ور درمل کي، مثلاً د تاریخ سیستان مؤلف لیکي چي په ۲۲۰ هـ کال په ښست کښي د هلمند اوبه وچي سوې او سخته کاختي وه، او په سیستان کښي د هلمند د اوبو د لږوالي په سبب ډېر خلك له لوږي مړه سوه، ددې ځای حاکم دغه احوال عبدالله بن طاهر ته وکیښ.

عبدالله داسي یو فرمان صادر کئ، چي درې سوه زره درهمه له بیت الماله یعني د حکومت له خزانې ځخه راوباسئ، او هغه د یوه هیئت په وسیله په خوارانو او دهقانانو کښي ووېشئ.

په شاعري کښي هم اجتماعي احوال انعکاس کوي،او شاعر د خپل محیط ښه ترجمان دئ، ځکه چي په ټولنه کښي د عامو خلکو سره د ښو کولو لپاره ډېر ضرورت موجود ؤ، نو د اکثرو شاعرانو په کلام کښي هم حکمدارانو او خلکو ته ددې لپاره سپارښتونه سوي دي، چي دوي د خلکو سره تل مدارا او شفقت او مهرباني ولري، او ظلم و ستم پرېږدي زموږ اکثر شاعران داسي نصایح لري،مثلاً خوشحال خان خټك د نورو خلکو خدمت او د خوږو زړونو دارو کول د "مردانو" یو بشري ښکلی خوی ګڼي او وایي :

وګړي واړه کارونه خپـــــــل کا
مردان هغه دي چي کار د بـــــل کا
څوک چي آرام ګتي، د نیکو نام ګتي
د خوږو زړونو، دارو به تـــــل کا

**مولانا عبدالرحمن جامي د خراسان لوی شاعر داسي ویلي دي :**

مکـن انـدر کشش خلق شـتاب — کـه تا غیست دریـن کـار صـواب
گــوش برقصــه محتاجــان دار — کــار حاجـت طلبــان زودگــذار
تــا بــود حاجــت حاجتمنــدان — نیست خوش، طاعت دیگر چندان
کلــه از عــدل وقبــا جــوی ز داد — بـر تـو ایـن نکتـه فرامـوش مبـاد
زانکه آبادي ملک از عدل است — وزغـم آزادي ملـک ازعـدل اسـت
تـــا رعیـت ز ملـک شـاد نشـد
ملـــک از سـعی وی ابـــاد نشـد

**د جامي له کلامه ما دا یو مثال ددې لپاره راوئ چي زموږ په وطـن کښي د عامو خلکو د رفاه او هوسایي لپاره د پوهانو او مفکرانو له خـوا هم یوه دایمي سعیه جـاري وه، او دوي بـه همېشـه د خوارانـو او بـې وزلانو او بزګرانو حمایت اوکومک تـه نـور تشـویق کـول. او دا هغـه وخت ؤ چي د نوی عصر افکار لا نه وو پاخه سوي، د خلکو د ژوزني او پالني مدني او عصري قوانین لا نه ؤ موجود سوي، مګر زموږ پـه وطـن کښي ددې کار لپاره زاړه عنعنات موجود وه.(۱)**

**(۱) وږمه مجله، د ۱۳۴۸ ل کال د حمل او ثور ګڼه ص ۱**